## حقوقي راپور د یهودو د رژیم په زندانونو کې د شکنجې له ناورینونو پرده پورته کړه

## (ژباړه)

د غزې پر وړاندې د یهودي رژیم روان د نسل‌وژنې ویجاړوونکې جګړې یو ځل بیا د یهودود د رژیم له جنایتونو او شکنجې څخه پرده پورته کړه، چې په سیستماتیک ډول او قانوني ملاتړ سره د فلسطیني مسلمانانو پر وړاندې ترسره کېږي. دغو جنایتونو د مجرمینو بشپړه ازادي تضمین کړې او په وروستیو کې د افشا شوو جنایتونو په دوام یو ځل بیا د اشغالي سیمو د جنوبي برخې په بدنامه نظامي اډه «سده تیمان» کې ښکاره شوي دي.

د جګړې په پیل کې یهودي رژیم دغه نظامي اډه د «النقب» په دښته کې پر زندان بدله کړه، چې د غزې په ۳۰ کیلو مترۍ کې د «بئر السبع» ښار لور ته پرته ده. د غزې ډېری بندیان چې ماشومان، ځوانان او بوډاګان پکې شامل وو، دغه سیمې ته ولېږل شول.

حقوقي او رسنیزو راپورونو تایید کړې، چې د یهودي رژیم نظامیانو په دغه زندان کې د زندانیانو پر وړاندې بشري حقونه تر پښو لاندې کړي دي او هغوی یې له شکنجې او سپکاوي سره مخ کړي دي. د یهودي رژیم په زندانونو او اډو کې د فلسطیني زندانیانو شمېر ۹۶۲۳ کسانو ته رسېدلی دی، چې په دوی کې ۴۷۸۱ کسان یې له هر ډول محاکمې پرته بندیان شوي دي، یعنې دوی نه د تورونو په اړه معلومات ورکولی شي او نه له ځان څخه د دفاع حق لري. همدارنګه نه د دوی کورنۍ او نه هېڅ بله مرجع د هغوی د ځای په اړه معلومات لري.

د بشري حقونو د معلوماتو مرکز (اسرائیلي) په اشغال شوو سیمو کې د (بتسلیم) تر نامه لاندې په یوه راپور کې چې د یهودي رژیم له زندانونو څخه د ۵۵ ازادو شوو فلسطینیانو د شاهدۍ پر بنسټ دی، تایید کړې ده چې دغه کسان له شکنجې، جنسي تېري، سپکاوي او لوږې سره مخ دي. دغه راپور په ۹۰ صفحو کې د «دوزخ ته ښه راغلاست: د شکنجې د اډو پر شبکه باندې د اسرائیلي زندانونو بدلېدل» تر سرلیک لاندې خپور شوی، چې په عبري، انګلیسي او عربي ژبو وړاندې شوی دی. په دغه راپور کې د ۲۰۲۳م د اکتوبر له ۷مې راهیسې د یهودي رژیم په زندانونو کې په غیرانساني شرایطو سره د فلسطیني بندیانو د ساتنې په اړه معلومات راغلي دي. هغه زندانونه چې د شکنجې په اډو بدل شوي دي او هر څوک چې ور داخل شي، نو له شدید درد او رنځ سره مخ کېږي. په دغه راپور کې ټینګار شوی، چې په یاد زندان کې د شکنجې او ځور سیستماتیکه کړنلاره حاکمه ده، چې په هغې کې سخت او خپلسری تاوتریخوالی، جنسي تېری، سپکاوی، لوږه، د روغتیا ناوړه شرایط، خوب ته نه پرېښودل، له عبادت څخه منعه کول، د عبادت پرمهال مجازات کول، د شخصي او ګډو ټولو وسایلو ضبطول او له مناسبو درملو څخه مخنیوی شامل دی.

**د الوعي تبصره:** دا د مسلمانانو پر وړاندې د یهودانو چلند دی (هغه کسان چې دښمني یې تر هر څه بده ده) خو مسلمانان بیا داسې نه دي او د هغوی دین له بندیانو سره د انساني او با اخلاقه چلند سپارښتنه کوي؛ هغه څه چې موږ په تاریخ کې لیدلي او نن ورځ یې هم شاهدان یو. دا چار څرګندوي چې د اسلام دین یو الهي او انساني دین دی، چې له نژادپالنې او تحریف سره مخ شوی نه دی. په مقابل کې د یهودو دین د سرکښو او تحریف شوو کسانو په ځانګړي دین بدل شوی دی.

**له الوعې مجلې څخه په 458-459 شمېرې اخیستل، نهه دېرشم کال، د ۱۴۴٦هـ.ق کال ربیع‌الاول-ربیع‌الثاني، د ۲۰۲۴م کال د اکتوبر – نومبر میاشت**

**ژباړن: صهیب منصور**